USAID | AFGHANISTAN

FROM THE AMERICAN PEOPLE

# اقتصادي وده

جون ۲۰۱۱



Photo: USAID/Amy Koler

*USAID* له ښځینه متشبثینو سره مرسته کوي څو د سوداګریزو ټولنو له لارې لکه د افغانو ښځو تجارتي فدراسیون خپلو اړتیاو ته مدافعه وکړي. دغو غړو د *AWBF* په پسرلنی نمایشګاه کې د زیات خرڅلاو څخه ګټه پورته کړه.

### د اقتصادي ودې خلاصه

- د مخابراتو په سکټور کې تخنیکي مرسته د ۵.۱ ملیارده ډالرو پانګونې او د ۱۰۰۰۰ کارونو د ایجاد باعث شول
- د پورونو اتحادیې ۳۵۰۰۰ نه زیات پورونو اجرا کړل چې ارزښت یې ۸.۳۰ ملیونه ډالره وه او د ۵۲۰۰۰ کارونو د ایجاد باعث شول
- د افغان حکومت عواید ۳۱ سلنه پوته شول چې د مارچ ۲۰۱۰ نه تر مارچ ۲۰۱۱ پورې ۷.۱ ملیاردو ته ورسیدل
- څېړنې په ټول افغانستان کې د صنعتي او منرالي زیرمو پېژندنه کړېده چې ارزښت یې ۹۰۰ ملیارده ډالره تخمین شوی دی

## شالید

فقر په افغانستان کې پراخ او خورا ژور دی. په بعضو ولایتونو کې د فقر کچه تر ۶۰ سلنو زیات دی. د ۲۰۰۳ نه تر ۲۰۰۷ پورې اقتصادي وده له ۱۰ سلنو زیاته وه، خو په ۲۰۰۸ کې د اقتصادي بحران له کبله ۴.۳ سلنو ته ولوېده. اصلي سرانه عاید تر ۴.۲۰ سلنو په ۲۰۰۹-۱۰ کې جګه شوې او پروسه کال ۴.۸ سلنو ته جګه شوه. په لوړه کچه فقر، خراب امنیتي حالت او د نفوس وده افغانان ګواښوي تر څو خپلې هڅې د داسې یو اقتصاد جوړولو ته دوه برابره کړي چې سوداګري او پانګه اچونه تشویقوي تر څو کاري فرصتونه زیات شي. د USAID د اقتصادي ودې پروګرام د افغانستان اسلامي جمهوریت سره مرسته کوي تر څو د اقتصاد په برخه کې سالم حکومت جوړ کړي او له خصوصي سکټور سره کار کوي تر څو د سوداګرۍ او پانګه اچونې فرصتونه برابر کړي. USAID افغانانو او د افغانستان حکومت سره په ګډه کار کوي څو پانګه جذب، کاري پایدار فرصتونه ایجاد او د بازار اړیکي لا پراخې کړي.

## د پروګرام تصویر

### د خصوصي سکټور پراختیا

د USAID پروګرام چې به افغانستان کې د مشروع اقتصاد ودې نه ملاتړ کوي د خصوصي سکټور پر مفیدیت او د سوداګرۍ پر چاپیریال تمرکز کوي تر څو د خصوصي سکټور پانګونه جذب کړای شي. په کابل او مزارشریف کې USAID د صنعتي پارکونو په پراختیا کې مرسته وکړه او په پراخه پیمانه د سوداګرۍ د پراختیا خدمتونه وړاندې کوي تر څو د کوچنیو او متوسطو تجارتونو افتتاح تشویق کړي په شمول د مدیریتي مهارتونو زده کړه، د بازار معلومات، او عامه-خصوصي ایتلاف لپاره نقدي مرستې. تر اوسه پورې USAID ۵۰ عامه او خصوصي ګډ کارونه ایجاد کړي چې تر ۹۵ ملیون ډالرو زیات د خصوصي سکټور لخوا د بیمې، د طبیعي زیرمو په استخراج، مخابرات/رسنۍ، لوازم او وسایل، معلوماتي ټکنالوژۍ او غذایي پروسس سکټورونو کې پانګه اچونه وشوه.

### د سوداګریزو ټولنو پیاوړتیا

سوداګریزو ټولنو ته د USAID ملاتړ د دې باعث شوه څو د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو اتاق څانګې په کندهار، مزارشریف، هرات، کندز او جلال آباد کې پرانستل شي تر څو د ولایتي محلي سوداګرو او ټولنو ظرفیت لوړ کړي. USAID د ۱۲۵ سوداګریزو ټولنو په ایجاد کې مرسته کړېده (چې ۲۷ ښځینه ټولنې په کې شاملې دي) او ۲۵۰ نورو ټولنو سره یې هم د وسایلو، ظرفیت جوړنې او د غړو د خدمتونو د ښه والي په برخو کې نقدي مرسته کړېده.

### سوداګري او پانګونه

USAID له افغان حکومت او خصوصي سکټور سره مرسته کوي څو سیمه ایز او نړیول تجارتي اړیکي زیاتې کړي او د صادراتو په برخه کې د سوداګرۍ پراختیایي مرستې په دریو کټګوریو کې عملي کړي: د سوداګرۍ د پالیسۍ آزادي او نړیوال سوداګرۍ سازمان ته لاسرسی، د سوداګرۍ سهولتونه او د ګمرکونو اصلاح، او عامه لاسرسی او د سوداګرۍ اړوند مسایل. USAID له افغان حکومت سره مرسته وکړه تر څو له پاکستان سره د افغانستان او پاکستان ترانزیټي تړون باندې خبرې وکړي چې د سویلي آسیا د آزادې سوداګرۍ د تړون د تقویت یوه برخه وه او ملاتړ یې وکړ تر څو د سوداګرۍ په نړیوال سازمان کې غړیتوب تر لاسه کړي. اوسمهال، USAID د دغو تړونونو له اجرا څخه ملاتړ کوي په شمول د دې چې د شفافیت، د سوداګرۍ د بندیزونو لرې کول او د ګمرکاتو د لوړو عایداتو په برخه کې مهم اصلاحات راولي.

### اقتصادي اصلاحات تر څو رقابت پیاوړی شي

USAID د بنسټیز ظرفیت په تقویت کې، د شفافیت په لوړولو او د یو پایدار مالي سکټور په جوړولو کې مرسته کوي. د سوداګرۍ د چاپیریال په سمولو کې ښه والی د دې باعث شوی څو د مخابراتو په برخه کې له ۵.۱ ملیارده ډالرو څخه زیاته پانګونه وشي او د ۲۰۰۳ نه را پدېخوا د ۱۰۰۰۰۰ کارونو د ایجاد زمینه برابره شي. په آینده کې، USAID به د ودې په حال کې سکټورونو باندې تمرکز وکړي لکه معادن چې په کې د پانګونې او کار خورا زیات فرصتونه موجود دي.

معلومات د جون ۲۰۱۱ څخه

ادامه لری

# د اقتصادي ودې ادامه

## د ځمکې مدیریت

ملکیتي حقونه د ټولو افغانانو لپاره یوه پېچلې ستونزه ده خو په تیره هغو په ملیونونو کسانو ته چې د جنګونو وروسته د ښارونو په غیر پلاني سیمو کې میشت شوي دي. USAID د افغانستان د ځمکو اداره یا اراضي سره مرسته کوي څو افغان ښاریانو ته په غیر رسمي سیمو کې د ځمکې د ملکیت سندونو انتقال کړي. د پروګرام فعالیتونه دغه راز د ځمکې ملي قانون څخه چې په ۲۰۰۸ کې توشیح شو ملاتړ کوي: مرسته وشوه څو په ۲۱ ولایتونو کې د ځمکو د ثبت دفترونه ایجاد شي او د کابل په پولیتخنیک پوهنتون کې د ځمکې د سروی/نقشه برداری لپاره یو درسي کوریکولم هم جوړ شو. له سترې محکمې سره همکاري د دې باعث شوه چې د ځمکې د ثبت پروسه د ۳۴ قدمونو نه په ښاري سیمو کې درې او په کلیوالو سیمو کې څلورو قدمونو ته کښته شي.

## مالي خدمتونه

له یو پایدار او مشتمل مالي سکټور څخه په ملاتړ USAID مالي خدمتونو ته لاسرسی زیاتوي چې دغه سکټور د کوچنیو، وړو او متوسطو پورونو اړتیاوې په ټول هېواد کې پوره کوي چې کرهنیز سکټور او سویلي او ختیځو سیمو باندې خاص تمرکز لري. د ۲۰۱۱ مې پورې، USAID د پورونو اتحادیو ته نقدي مرسته وکړه چې هغوي ۳۵۰۰۰ پورونه اجرا کړل (۱۴ سلنه ښځې) په ۱۴ ولایتونو کې چې ارزښت یې ۸.۳۰ ملیونه ډالره وه او ۵۲۰۰۰ کارونه یې ایجاد کړل. USAID د سیارو پیسو وده تشویقوي چې دا د ټکنالوژۍ له لارې په مالي وده کې د پانګونې یو اساسي نوښت دی.

## معادن

افغانستان د طبیعي زېرمو یو بډایه هیواد دی چې که د نړېوالو معیارونو په اساس استخراج شي کولای شي چې اقتصادي وده په ډراماتیکه توګه ښه او د دولت عواید لوړ کاندي. له هغه سروې له مخې چې د متحده ایالاتو جیولوجیکي سروې او د معدنونو د وزارت لخوا ترسره او د USAID لخوا تمویل شوې وه، په ټول افغانستان کې د صنعتي او منرالي قیمتي زیرمو پېژندنه وشوه چې ټولټال ۹۰۰ ملیارده ډالره ارزښت لري. USAID د قیمتي تیګو سکټور سره د تیګو د قطعې او پالش د زده کړې په برخه کې مرسته کړېده. د مرمر له سکټور سره مرسته د دې باعث شوه چې د مرمرو یوه اتحادیه جوړه شي، درې نړېوال د مرمرو کنفرانسونه په افغانستان کې په لاره واچول شي او د مرمرو د استخراج مډرن تخنیکونه معرفي شي او د مرمرو صادرات لوړ شي چې به کال کې ۲۴ ملیونه ډالرو ته رسېږي.


Photo: USAID/Afghanistan

په آلمان کې په یوه نندارتون کې افغاني غالۍ چېرې چې یو افغان ته د غالیو د تر ټولو غوره ډیزاین جایزه ورکړل شوه چې د *USAID* لخوا یې ملاتړ شوی و.


Photo: USAID/Afghanistan

د هندوکش او بامیر د پیچلو غرونو په منځ کې پټ افغاني مرمر او تیګې یو مخ پر ودې سکټور دی چې کاري فرصتونه او عواید ایجادول شي پداسې حال کې چې به ټوله نړۍ کې مصرف کوونکو ته خاص ګنجونه په برخه کوي.

د تماس معلومات
USAID/کابل
د کابل ځای ۶۱۸۰
Dulles, VA 20189-6180
(202) 216-6288 ext 4454
0093 (0) 700-234-233
http://afghanistan.usaid.gov
kabulaidinformation@usaid.gov